Australian Government
Australian Taxation Office

# د خپل مالیاتي اظهارلیک ترسره کولو لپاره څنګه چمتو شئ

ستاسې د مالیاتي اظهارلیک ډکول په **3** مرحلو کې کېږي**:** راټولول، چمتو کول او سپارل.

## . راټولول

هغه معلومات راټول کړئ چې تاسې ورته اړتیا لرئ.

لاندې ورکړل شوي چیک لستونه تعقیب کړئ ترڅو ډاډ ولرئ چې تاسې خپل مالیاتي اظهارلیک کې صحیح معلومات ورکړي.

تاسې د عایداتي کال لپاره د 1 جولای څخه تر 30 جون پورې معلوماتو ته اړتیا لرئ.

## .2 چمتو کول

پرېکړه وکړئ چې تاسې څنګه خپل مالیاتي اظهارلیک چمتو کوئ.

که تاسې پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک ډکوئ نو تاسې کولی شئ آنلاین د myTax په کارولو سره (په انګلسي کې) یا د کاغذي مالیاتي اظهارلیک (په انګلسي کې) په کارولو سره وسپارئ.

د myTax کارولو لپاره تاسې خپل د myGov کاروونکي آي.ډي او پاسورډ ته اړتیا لرئ. که تاسې د myGov حساب نلرئ، تاسې کولی شئ یوځلي جوړ کړئ او په my.gov.au کې یې د ATO سره ( په انګلسي کې) لنک کړئ.

که تاسې د مالیاتي اظهارلیک سپارلو لپاره د مالیاتو راجستر اجنټ څخه کار اخلئ نو مهرباني وکړئ د هغوی سره غږېدو لپاره ملاقات واخلئ.

## .3 سپارل

خپل مالیاتي اظهارلیک په ټاکلې نېټه وسپارئ.

که تاسې پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک کارونه مخته وړئ نو اړ یې چې هرکال یې تر اکتوبر 31 نېټې پورې وسپارئ.

که د مالیاتو راجستر اجنټ تاسې سره مرسته کوي، تاسې اړ یې د هغوی سره د اکتوبر 31 څخه مخکې کار پیل کړئ.

زه کومو معلوماتو ته اړتیا لرم
زما د مالیاتي اظهارلیک لپاره؟
تاسې اړتیا لرئ خپل:

- ◻ tax file number (TFN)
- ◻ ستاسې د بانکي حساب تفصیلات (BSB او د حساب لمبر) که چیرې اړتیا وي چې تاسې ته پیسې بیرته تادیه شي
- ◻ ستاسې د عاید په اړه تفصیلات:
  - ◻ ستاسې د ټولو کارګمارونکو لخوا د عاید اظهارلیکونه یا ستاسې د myGovحساب کې
  - ◻ د حکومتي (لکه Centrelink) تادیاتو لنډیزونه
  - ◻ د پانګوونې عاید (لکه بانکي اظهارلیکونو کې ټکټانه، د اسهامو او ونډو اظهارلیکونه)
  - ◻ بهرنی عاید (لکه د هېواد څخه دباندې کار یا پانګوونې)
  - ◻ نور عاید (لکه نغدي دندې، کرایی املاک)
- ◻ ستاسې د کسرونو او لګښتونو په اړه تفصیلات:
  - ◻ د کار پورې تړلي لګښتونو لپاره ریکارډ (لکه رسیدونه، لاګ بوک، د کور څخه د کار شواهد)
  - ◻ د هغه ډالیو او خیراتي ورکړو رسیدونه چې تاسې په شرایطو برابر خیریه نهادونو او نورو سازمانونو ته ورکړي دي
- ◻ د مېرمن (متاهل یا دي فکتو) تفصیلات پشمول د هغوی د مالیاتو په شرایطو برابر عاید.

DE-20789-3-ENG

راجستر شوي مالياتي اجنټان یوازیني خلک دي چې اجازه لري ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو لپاره فیس واخلي. تاسي کولی شئ وګورئ چې آیا ستاسي مالیاتي اجنټ په tpb.gov.au (په انګلسي کې) کې راجستر دی.

## د سپارلو لپاره غوره وخت کوم دی؟

کارګومارونکي، بانکونه او نورې سوداګرۍ مورږ ته د هغه عاید په اړه تفصیلات راکوي کوم چې هغوی مالیه ورکونکو ته تادیه کوي. که تاسي د جولایی اخر پورې انتظار وکړئ، مورږ دا تفصیلات ستاسي مالیاتي اظهارلیک کې ستاسي لپاره شاملوو. دا ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارل چټک او اسانه کوي.

که تاسي پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک سپارئ، تاسي د جولای 1 څخه تر اکتوبر 31 پورې د سپارلو لپاره وخت لرئ.

## د ریکارډ په ښه بڼه ساتل د مالیاتي اظهارلیک کار اسانوي

د هر عایداتي کال له پیل څخه د ریکارډ ساتل به ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو کار اسانه کړي. د ټولو کسرونو لپاره چې تاسي یې غواړئ خپل د معاشاتو رسیدونه او کاغذونه وساتئ. عموماً کار پورې تړلي لګښتونو لپاره د کسر غوښتنه کولو لپاره (یوازې) بانکي اظهارلیک کافي شواهد ندي.

خپل ریکارډ په یوه خوندي ځای کې وساتئ. د myDeductions وسیله په ATO ایپ کې تاسي سره مرسته کولی شي. په ato.gov.au/app کې (په انګلسي کې) نور معلومات ترلاسه کړئ.

## مرسته د کوم ځای څخه ترلاسه کړئ

د نورو معلوماتو لپاره، د ATO ویب پاڼي ته په ato.gov.au/TaxTimeResources (په انګلسي کې) ورشئ.

تاسي همدارنګه د مرستي لپاره راجستر شوي مالیاتي اجنټ سره هم غږېدلی شئ.

**خبرتیا:** دا معلومات یوازې عمومي لنډیز دی او په 2024 مارچ 26 کې تازه شوي دي.

تاسي کولی شئ په آزادانه ډول دا مواد کاپي کړئ، سمون ورکړئ، اصلاح یې کړئ، ولیږدوئ او توزیع یې کړئ (مګر پداسي کومه طریقه نه چې سپارښتنه کوي یا ښئ چې ATO یا Commonwealth تاسي یا ستاسي کوم خدمتونه یا محصولات تاییدوي).